# پښتون

## بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۳)　　کال ۱۹۸۵ ع　　میاشت فبوری

## باچاخان وائی

هر استعماري طاقت چه کوم ملك تر خپل تصرف لاندې راګیر کړی نو لومړی دا زیار باسی چه دهغه وطن اوسیدونکې ناپوهه او جاهل وساتی — او دوهم دا چه ژبه ئې ورکه کړی.

هغه وخت چه پرنګیانو پر هندوستان قبضه وکړه نو اول کوشش یې دا وو، چه خپله ژبه هلته رواج کړی دا ځکه چه یو خو دوی ته د داسې خلکو ضرورت وو، چه په انګریزی وپوهیږی — او بل دا چه داخو قدرتی خبره وه چه د ژبې زده کولو سره دهغوی مینه او همدردی هم پیدا کیدله. ځکه نو هغوی په هندوستان کښې دانګریزی ښودنه په ډیر زور او شور شروع کړه — او له دې لارې ئې هم دخپلو استعماری اغراضو دپاره لاره پرانیستله.

خو دهندوستان سره ئې بیا هم دومره احسان وکه چه ابتدائی تعلیم دهغوی په مورنی ژبه وو. لیکن چه دپښتنو ملك له راغی نو پر پښتنو ئی هغومره رواداری هم ونه شوه — او دپښتنو بچیانو ته ابتدائی تعلیم هم په پښتو ژبه نه وو.

سربیره په دې ئې دهندوستان دعلاقو دپاره دتعلیم

( پاتی دریم مخ )

لیکونکی: شیر

## شوروی یان د افغانانو د ازادۍ روحیه مړه کولی نشی

پدی ورځو کښی، شوروی یرغلګر پوځ په افغانستان کښی ژوبله وژل او زور زیاتی خپل اخرنی سرحد ته رسولی دی.

دافغانستان په ګوټ ګوټ کښی سختی بمباری کړی دی. کلی او بانډی د ختاورو سره سمی کړی او زیات بزګران او کارګران او ډیر نور بیګناه افغانان ئی وژلی دی.

شوروی استعمارګر قدرت هڅه کوی چی دافغان اولس مقاومت او د خپلواکی اراده له منځه یوسی. خو دافغانانو تاریخ هم پدی شاهد دی چی دوی به د خپل ټول ظلم او زیاتی، سره پدی بریالی نه شی چی افغان اولس ته د غلامی کړی ور واچوی. ورځ په ورځ د

(پاتی دریم مخ)

# د پښتنو ټولنيز اولسي ګوند
# او د
# افغان ملت د ګوند
# ګډ کار ترون

بن / کولن: د پښتنو د ټولنيز اولسي ګوند
(Pashtoons Social Democratic Party -PSDP)
او د افغان ملت د ګوند
( Afghan Social Democrat Party -ASDP )
د لګه ګيو د ۱۹۸۵ ع کال د جنورۍ د مياشتې په ۱۹ نيټه په بن کښې او په ۲۰ نيټه په کولن کښې په يولړ ملي او نړيوالو ربړو او د دواړو ګوندونو د ګډ کار او اتحاد په ضرورت باندې خبرې وکړې. د دواړو ګوندونو د لګه ګيو په لومړي پړاو کښې د يوې متحدې جبهې په بڼه کښې د ګډ کار ترون وکړ. وروسته د دې به د هيواد په دننه او بهرنيو هيوادونو کښې د دواړو ګوندونو غړي د هر هيواد د شرائطو سره سم د ګډ کار کړنلارې وټاکي او عملي ګامونه به واخلي. په دغه خبرو کښې د پښتنو د ټولنيز اولسي ګوند له خوا د ګوند مشر کبير ستوري د ګوند د مشر لومړي مرستيال عبدالقدوس تندر د ګوند د خپرونو د چارو مشر مسعود او د ګوند د مشرانو د جرګې غړي ميوند او د افغان ملت د ګوند له خوا د دغه ګوند لوی مشر محمد امين واکمن او جمال رحمان برخه لرله.

# ولي خان د ملي ډيموکراتيک
# ګوند مشري په غاړه واخيسته

پېښور: د پښتنو ملي مشر عبدالولي خان د ملي ډيموکراتيک ګوند (National Democratic Party -NDP) مشر وټاکل شو. د دغه بدلون د پښتنو د ازادۍ هيلې راژوندۍ کړې. ځکه چې د اس اتحاد کېږي چې په دې توګه به د نړيوال عوامي پارټي غړي چې په بېلوبېلو ډلو وېشل شوي و بېرته سره يو او د ولي خان د مشرۍ لاندې راټول شي.

## چه قام او ژبه په اغيار خرڅوي
## داسې سړي لري هيڅ ايمان نه وي

## اخو پښتون يمه پښتو به کوم
## نعادي چالبازۍ احتمال نه وي

## «تشمش بونيري»

## نه پښتون يم پښتني زما جهان دی
## سر او مال مې د پښتونخوا قربان دی

## په پښتو باندې ژوندی په پښتو مړ مه
## پښتو ننګ، پښتو غيرت، پښتو ايمان دی

## (ستوری)

# شورویان د افغانانو...

شوروي یا یرغلگر پوځ په مقابل کښې د
افغان اولس مقاومت زیاتیږي او د
خیلواکۍ د گټلو دپاره ځان لا پسې
زیات چمتو او سمبالوي. شوروي
یرغلگر پوځ او د هغې تالي څټـــــي

(پرچم د لی) د ډلو او باند و کنترول
لاندې چې د کابل د ښار کنترول ئې هم
په زیاته اندازه د لاسه ورکړی دی.
شورویان چې تش په خوله د سولې او
امن ناری وهي په خپل دی عمل سره
ئې نه یوازې د سیمې امن ته خطره
پیدا کړې بلکه د ټولې نړۍ امن ئې
د خطر سره مخامخ کړی دی.
خو څرنگه چې جگړه د افغانستان د
رهبرۍ د حل بنه لاره نده نو د پښتنو
ټولنیز اولسي گوند د لوی جرگې نوښت
منځ ته راوړی دی. د ملگرو ملتو د
موسسې د ضمانت او د دغه موسسې د
سولې د پوځونو د سیورې لاندې د دغه
نوښت د افغانستان د رهبرۍ د حل
د پاره غوره سیاسي لاره ده. نو پدی
لاره ښې د ټولو په سوله او ازادۍ
مینو اولسو نو د ملاتړ هیله مند یوو.

**لا به یو کیږو گني ورکیږو**
**(ولي خان)**

# باچاخان...

اساسي مدرسې پرانیستلې ـ خود پښتنو علاقو ته ئې ځکه اساسي توجه ونه کړه چه غوښته ئې چه پښتانه جاهل پاتې شي ـ صرف د نامه دپاره ئې ځو ښې اساسه مدرسې پرانیستلې هغه هم په لويو لويو کلیو کښې او هغه هم ترځلورم او پنځم جماعته پورې.

په دې ئې هم بس نه کړه ـ او په دې ځو ښې اساسو مدرسو پسې ئې هم ملایانو لمسول او د پرنگیانو په اشارو به ئې ویل :ـ

که څوك په مدرسه کښې تعلیم وکي نو تراوونسلو پورې به دوزخ ته ځي ـ او پښتو ژبه خو ئې لا دد وزخیانو ژبه بلله.

که څه هم تر څــه حده زما د ملایانو سره په دې خبره اتفاق وو چه د پښتنو بچیان دې په انگریزي مدرسو کښې درس نه لولي ـ خو ما به ورته ویل چه :ـ څه ـ هغه ئې نه صحیح ـ خو څنگه چه د اسلام د مقدس دین له مخې علم په هر سړي او هره ښځه باندې فرض دی نو باید د پښتنو بچیو ته په بله طریقه د علم ښودلو لاره چاره وسنجوله شي خو ملایانو دا هم نه منله.

ددې نتیجه دا شوه چه پښتانه په عمــومي توگه بې علمه پاته شوه او هغه څه قدر چه په انگریزي مدرسو کښې تعلیمیافته شول د هغوي بیا د خپلې ژبې سره څه مینه او علاقه پاته نه شوه بلکه کرکه به ئې ورځني کوله ـ زما یاد دی کوم وخت چه مونږ د «پښتون» مجله جاري کړ د نوما به تعلیمیافته گانو ته ویل :ـ راځئ ـ په دې مجله کښې شریك شئ او دا مجله ولولئ : دوی به په جواب کښې راته ویل :ـ
په پښتو کښې څه دي؟ دا خو یوه مړه ژبه ده! ما به ورته وې چه :ـ
پښتو هم د نورو ژبو په شان ژبه ده ـ د انورې ژبې هم له اسمانه همداسې روغې نه دې راکوزې شوې ـ د هغو ژبو تعلیمیافته وو خلکو ورته کار کړی دی ـ دا چه په پښتو کښې څه نشته دا سې معلومیږي چه په تاسو تعلیمیافته وو کښې څه نشته.
نو دا گناه د چا شوه؟ . . . . . د پښتو که د پښتنو؟؟

( پاتې شلورم مخ )

# باچاخان...

بل طرف ته انګریزانو زمونږ په صوبه کښې یو داسې ظالمانه قانون (فرنټیر ریګولیشن ایکټ) جاري کړي وو چه په بله یوه صوبه کښې هم نه وو ـ داداسې ظالمانه او ګنده قانون وو ـ چه دهغه په وجه په پښتنو کښې پرې جنبې ، قتل ، جګړې ، بد عملي ، مخالفتونه ، او بې اتفاقي زیاتي شوې

په ١٩١٨ ع کال چه ددنیا اول لوی جنګ ختم شو ـ نو په هندوستان کښې دخلافت تحریك شروع شو ـ او بیا په ١٩٢٠ ع کال کښې هجرت شروع شو او چه هجرت ناکام شو ، په دغه وخت کښې زه باجوړ ته په دې خیال لاړم چه په قبایلي علاقه کښې دمدرسو تحریك شروع کړم ـ خو زما تول ملګري بیرته لاړل ، او زه یوائې پاتې شوم نو زه هم بیرته کلي ته لاړم نو هلته بیا مونږ په ١٩٢١ م ع کښې د مدرسو جوړولو کار شروع که او په اتمانزو کښې مو آزاد هائي سکول جوړ که او نورې مدرسې هم منځ ته راغلې ـ خو څنګه چه دا کار دیوه سړي دلاسه پوره نه وو ـ نو دیو جمعیت دجوړولو ضرورت پیدا شو او مونږ یو اصلاحي او قومي جمعیت انجمن اصلاح الافاغنه په نامه جوړ کړ.

دې انجمن دوه مهم کارونه درلودل یو دا چه په پښتنو کښې دزده کړې او علم شوق پیدا کړی ـ او بله دا چه دپښتنو له منځه بد رواجونه ورك کړی ـ نو ځکه مو په کلیو او باندو کښې دورې شروع کړې .

زمونږ دې کار انګریزانو ته سخت تشویش پیدا که او زمونږ مخې ته ئې خنډونه اچول شروع کړه ـ چه مونږ ئې پروا ونه کړه نو مونږ ته ئې په نیغه وویل چه دورې به نه کوئ ـ او چه مونږ منع نه شوو نو زه ئې ګرفتار کړم او په دفعه ٤٠ سرحدی کښې ئې درې کاله سخت قید کړم او په دې غرض ئې په جیلخانه کښې واچولم چه ګوندې زما ګرفتاری په وجه به انجمن اصلاح الافاغنه هم له منځه لاړشی خو د انجمن دغړو دورو خپل تاثیر کړی وو او دهغو په وجه زمونږ په ملك کښې څه نه څه دتعلیم شوق پیدا شه

هغه وخت چه مونږ له بنده را خلاص شو . نو مونږ بیا داخبره ضروری وګڼله چه په پښتنو کښې یو داسې تحریك روان ول په کار دی چه په دوی کښې مینه ، محبت ، ورورولی ، عزیزداری ، او قامولي پیدا او راژوندی کړی .

حقیقت هم دادی چه که تاسو د دنیا تاریخ وګورئ نو قومونه په تحریکا تو ژوندی کیږی ـ او د تحریکاتو په برکت په هغوی کښې د انفرادی ژوند په ځای اجتماعی ژوند پیدا کیږی .

(پاتی په بله ګڼه کښې خپریږی)

خپرونکی : د پښتنو تولنیزا ولسی ګوند
(Hrsg) : Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)

مسئول (زمه وار) : د پښتنو تولنیزه اولسی تولنه (د پښتنو د تولنیز اولسی ګوند غړی)

verantwortlich i.S.d.P.:
Sozialdemokratische Organisation der Paschtunen e.V.(Mitgl.d. Pashtoons Social Democratic Party -PSDP-)

د راګ پته (درك)
PSDP
5000 Köln 1
Postfach 101526
West Germany

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاري کړه، چې کله به اووه ورځنۍ، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به درې میاشتنۍ خپریدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاري شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې
درنښت
نصیر ستوری